د پټانزي ښوونیز مرکز

Patanzai Educational Center

## دکمپیوټر څانګه

دپټانزي دښوونیزمرکز ددرسي لکچر نوټونو لړۍ (۲) :

# داکسیل پروګرام زده کړه

(له ۹۷ څخه تر۲۰۱۰پورې)

# Microsoft Excel

(97-2010)

www.ketabton.com
Ketabton.com

لیکنه اوژباړه: اقتصادپوه نعمت الله "پټانزی"

ښوونیزکال : ۱۳۹۶ل ، ژمی

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالـۍ

**هغه ځوان اوپیغلې ته! چې داسلام دسپیڅلي دین داصولوپه رڼاکې دټکنالوژۍ له سترو او ارزښتناکو ښیګڼوڅخه ګټه اخلي په ډیره مینه اواخلاص سره ډالۍ کوم.**

**نعمت الله "پټانزی"**

www.ketabton.com

داکتاب له کتابتون ویب پاڼې څخه ښکته(ډانلوډ) شو،
د دې کتاب چاپ اونشرهرڅوک کولای شي مګر؛ بې اخځه ګټه اخیستنې ته
اجازه نشته!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د مطالبولړلیک

**سرلیک** **مخکڼه**

سریزه.......................................................................................................۱۱

### لومړی څپرکی

داکسیل پروګرام پیژندنه.......................................................................................۱۲
داکسیل پروګرام کارونه.......................................................................................۱۲
داکسیل پروګرام دخلاصولوطریقې.......................................................................................۱۲
سطرونه(روګانې ) اوستونونه(کالمونه).......................................................................................۱۳
اکسیل او چاپېریال یې.......................................................................................۱۳
اکسیل اولومړنی محاسبه.......................................................................................۱۳
د Touch-Typing تخنیک.......................................................................................۱۴
موږک (Mouse) او تخنیک یې.......................................................................................۱۵
دArrow کلې او تخنیک یې دحساب په څلورګونیوعملیوکې.......................................................................................۱۷
دجمعې اوتفریق عملیې.......................................................................................۱۷
ضرب.......................................................................................۲۰
ویش(تقسیم).......................................................................................۲۰
کسر.......................................................................................۲۰
لیندی "()" په فورمول کې.......................................................................................۲۱
مربع او مربع جذر.......................................................................................۲۲
مکعب او مکعب جذر.......................................................................................۲۴
اپریټرڅه شی دی؟.......................................................................................۲۵
اپریټرونه او د کارولو تخنیک یې.......................................................................................۲۵

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


لېندی(قوس) په فورمول کې........................................................................................۲۷
په لېندیو(قوسونو)کې لېندی(قوس) (Nested Parentheses)...................................................۲۸

## دوهم څپرکی

د اکسیل مهم فنکشنونه (Functions) اوفارمولونه(formulas) اودهغوی اوعملي تګلاره...............................۳۱
د SUM دیوه کالم دعددي قیمتونو جمع کولو(function) ..........................................................۳۱
دAVERAGE اوسط یاایورېج (function)...............................................................................۳۳
د COUNT کونټ (function) ...................................................................................................۳۴
د COUNTBLANK کونټ بلانک(function) ...................................................................۳۴
د COUNTA کونټا (function).................................................................................................۳۵
د MAX مکس یااعظمي(function) ........................................................................................۳۶
دMIN مین یااصغري (function)...............................................................................................۳۶
دIF فنکشنونه........................................................................................................................۳۷
Single if..............................................................................................................................۳۷
Multiple if...........................................................................................................................۴۰
Count if..............................................................................................................................۴۰
Sum if.................................................................................................................................۴۱
Average if...........................................................................................................................۴۲
If and...................................................................................................................................۴۳
If or.....................................................................................................................................۴۳
If note..................................................................................................................................۴۴
دIF څونورمثالونه.................................................................................................................۴۴
دUPER دلوی ښوودنې یا افر (function)...................................................................................۵۱
دLOWER دکوچنې ښوودنې یالاور (function)...........................................................................۵۱

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


د PROPER پراپر(function)........................................................................ ۵۱

د TRIM ټریم(function)........................................................................ ۵۱

د REPT تکرار(function)........................................................................ ۵۱

د RIGHT دښي لوري(function)........................................................................ ۵۱

د LEFT دکیڼ لوري(function)........................................................................ ۵۱

د MID مید (function) ........................................................................ ۵۲

د LEN لین (function)........................................................................ ۵۲

د SEARCH سیرچ(function)........................................................................ ۵۲

د CONCATENATE کانسیتینیت (function)........................................................................ ۵۲

د ISBLANK ایزبلانک(function)........................................................................ ۵۲

د LARGE دلوی والي یالارج (function)........................................................................ ۵۲

د SMALL دکوچینوالي یاسمال (function)........................................................................ ۵۲

د MAXA دمکسا (function)........................................................................ ۵۲

د MINA دمینا (function)........................................................................ ۵۲

د MEDIAN دمیډیان (function)........................................................................ ۵۳

د FIXED دعددونو دطبقوديبلولو (function)........................................................................ ۵۳

د ROMAN درومي رقمونو (function)........................................................................ ۵۳

د PRODUCT پروډکټ(function)........................................................................ ۵۳

د SUMPRODUCT سم پروډکټ(function)........................................................................ ۵۳

د POWER طاقت یاپاور(function)........................................................................ ۵۳

د SQRT مربع جذریاسکوارټ (function)........................................................................ ۵۳

د FACT فکتوریل یافکټ (function) ........................................................................ ۵۳

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


دLOG لوګاریتم (function) ........ ۵۳
دlog10 لوګاریتم (function) ........ ۵۴
دDEGREE درجې (function) ........ ۵۴
دRADIANS راډیان (function) ........ ۵۴
دSIN ساین (function) ........ ۵۴
دCOS کوساین (function) ........ ۵۴
دTAN تانجانټ (function) ........ ۵۴
د1/SIN کوسیکینټ (function) ........ ۵۴
د1/COS سکینټ (function) ........ ۵۴
د1/TAN کوتانجانټ(function) ........ ۵۴
دPI پی آی (function) ........ ۵۵
دMOD موډ (function) ........ ۵۵
دABS ای بي اس (function) ........ ۵۵
دSIGN سین (function) ........ ۵۵
دODD آډ(function) ........ ۵۵
دEVEN ایون(function) ........ ۵۵
دROUNDDOWN رونډ ډون (function) ........ ۵۵
دROUNDUP رونډ آف یاتقریب (function) ........ ۵۵
دFIXED فکسیډ (function) ........ ۵۵
دTRUNC ټرونک (function) ........ ۵۶
دISERROR ایزایرور (function) ........ ۵۶
دEXACT اګزاکټ (function) ........ ۵۶

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


دCODE کوډ (function) ............ ۵۶
دCHAR کرکټر (function) ............ ۵۶
دINDIRECT ان ډایریکټ (function) ............ ۵۶
دCHOOSE چوز (function) ............ ۵۶
دROW رو یاسطر (function) ............ ۵۶
دCOLUMN کالم یاستون (function) ............ ۵۷
دوخت اونیټي Functions په یوه جدول کې ............ ۵۷
دDEPOSIT ډیفوزیټ(function) ............ ۵۷
داسعارو تبادله ............ ۵۷
دDOLLAR دډالردسمبول (function) ............ ۵۷
دDOLLAR دډالردتبادلې (function) ............ ۵۸
دDISCOUNT ډسکونټ یادتخفیف(function) ............ ۵۸
د DATABASE ډاټابیس فنکشنونه ............ ۵۹
دPERCENT فیصدي(سلنې)(function) ............ ۶۰
Concatenation اپریټر ............ ۶۱
Logical Comparison اپریټرونه ............ ۶۴

## دریم څپرکی

اکسیل او ورتیاوې یې ............ ۶۸
Fill Handle ............ ۶۸
د سیلونو صف کاپي کول ............ ۶۹
دفورمول کاپي کول ............ ۷۰
Fill Handle پر نورو ډولونو کارول ............ ۷۲


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


Fill Handle ته ځانګړی لیست زیاتول.......................................................................۷۴
د Fill Handle یوه تېروتنه .......................................................................................۷۵
تفصیل...........................................................................................................۷۷

## څلورم څپرکی

په اکسیل پروګرام کې وختونه او نیټې .........................................................................۷۸
یوه پوښتنه.......................................................................................................۷۹
بله پوښتنه .......................................................................................................۷۹
یو ستر راز .......................................................................................................۸۱
د جیمناستیک ټولګی ستونزه او حل یې .......................................................................۸۵
وخت په ساعت بدلول .............................................................................................۸۹

## پنځم فصل

داکسیل پروګرام شارټ کټونه.........................................................................................۹۱
داکسیل هغه شارټکټونه چې ctrls سره یوځای کارکوي.....................................................۹۴
بنه ملګری......................................................................................................۱۰۲
منابع اوماَخذونه...............................................................................................۱۰۳
دلیکوال آثار اولیکنې...........................................................................................۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سریزه

**الحمدلله والصلوة والسلام على الذي أرسل مصلحاً لعباده ونبيأمن الصالحين ،وعلى آله الطاهرين،وصبحه الصادقين الذين اعتصموابحبل الله وكانوابنعمته إخواناً،امابعد:**

په دې کتاب کې موداکسیل دپروګرام په اړه ډیرګټورموضوعات،مفاهیم اومعلومات راغونډکړي دي چې ددې معلوماتوپه لوستلوسره به ددې پروګرام ټول کاروونکي وکولای شي چې په بشپړبریالیتوب سره خپلې ورځنۍ محاسبې سرته ورسوي ، که د۹۷ اکسیل پروګرام وي اوکه ترهغه نوې نسخه دهغه دپرانستلواوکارولووړتیابه ولري، د اکسیل په اړه چې کوم کتابونه لیکل شوي دي ټول له لومړنۍ محاسبې څخه نیولې بیا د هغه کتاب د لیکوال د پوهې تر کچې نوموړی موضوعات په کې تشریح شوی دی، په دې ځای کې نه غواړو د اکسیل پر لومړني جوړښت خبرې وکړو داځکه چې اوس هر څوک له نوموړي پروګرام سره څه ناڅه بلدتیا لري او کارولای یې شي.

داکتاب په پنځوڅپرکیوکې له معتبرومنابعوڅخه په ګټه اخیستنې سره ترتیب شوی دی چې په لومړي څپرکي کې یې داکسیل پروګرام دپېژندنې لپاره پوره معلومات ذکرشوي دي ،په دوهم څپرکي کې په اکسیل پروګرام کې اساسي ،مهم اواړین فنکشنونه اوفارمولونه اودهغوی په عملي تګلاروباندې غورشوی ،په دریم څپرکي کې داکسیل پروګرام وړتیاوې اوپه څلورم څپرکي کې داکسیل په پروګرام کې دوختونواونېټودبدلولو اوبالاخره په پنځم څپرکي کې داکسیل پروګرام شارټ کټونه وړاندې شوي دي ، په کلي توګه داکسیل پروګرام سره دلابلدتیا اودهغه دکارونې دوړتیاوو دزیاتیدولپاره مې دامعلومات دیوه کتاب په شکل راغونډکړل هیله لرم چې ګران لوستونکي یې له ګټوبرخمن شي .

**په درنښت**

**اقتصادپوه نعمت الله "پټانزی"**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی څپرکی

## د اکسيل پروګرام پيژندنه

**د اکسيل پروګرام کارونه :** ډېر داسې کارونه چې نه حد لري او نه هم پای د اکسيل په برکت تر سره کېږي، نوموړی د ډېرو موخو لپاره کارېږي چې روښاني ښيلګې يې د لګښتونو،عوايدو،دټولګيو د تنظيم چارې، د ټولګيو ليستونه، د حاضرۍ پاڼې، د ازموينو پايلې، دماليې غونډولو چارې او نور محاسبوي کارونه اودجدولونوجوړول يادولای شو.

### د اکسيل پروګرام دخلاصولوطريقې :

1. Start Menu باندې کليک وکړئ اودAll Programsغوره کړئ اوپه Microsoft Office باندې کليک وکړئ او بياورسته د Microsoft Excel په کليک کولو سره نوموړی پروګرام راخلاصيږي.
2. که چيرې دMicrosoft Excel, Shortcut دDesktopپه مخ موجود وي په هغه باندې دموږک په واسطه ډبل کليک وکړئ اويادهغه په Shortcut باندې ښی کليک وکړي او وروسته دOpen په کمانډباندې کليک وکړې داکسيل پروګرام راخلاصيږي .
3. Start Menu ته ورشئ اودRun کمانډ غوره کړئ اوپه هغه کې دExcel کلمه يا Name: Excel وليکئ داکسيل پروګرام به راخلاص شي.

**خلاصه :**

- داکسيلExcel يوفايل د255 شيټونلرونکی دی.
- داکسيل يوشيټ Sheet,256ستونونه(columns) لري.
- داکسيل يوشيټSheet ,65536سطرونه(Rows) لري.
- داکسيل يوشيټSheet ,16777216 خونې ياحجرې(Cells) لري.

**ښوودنه :**

- ستونونه ياکالمونه (columns) په الفبې سره ښودل کيږي .
- سطرونه ياروګانې (Rows)په عددونوسره ښودل کيږي .
- خونې ياسيلونه ياحجرې (Cells)په الفبې + عددونوسره ښودل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سطرونه(روګانې) اوستونونه(کالمونه) :**

کله چې اکسیل پرانیزی، د تشو روګانو او کالمونو کتارونه وینئ، که مو د نومورې په Options کې کوم بدلونونه نه وي راوستي بنايي د کالمونو شمېر يې په A,B,C او د روګانو دا يې په 1,2,3 ووينئ، اوس به راشو يوې بلې خبرې ته هغه دا چې د يوه مونيټور پرده څومره کالمونه او روګانې ښودلای شي، ځينې مونيټورونه د کالمونو شمېر تر H، ځينې نور بيا تر Q او ځينې يې تر T کالمه پورې ښيي، همداسې د روګانو شمېر چې په 1,2,3 سره پېژندل کېږي هم د مونيټور په پرده اړه لري چې ځينې يې تر 40، ځينې يې تر 31 او ځينې نور يې بيا تر 20 پورې ښيي. د روګانو او کالمونو د جوړښت له مخې د اکسيل پاڼه Cell-Cell يعنې کور-کور وي، هر کور ځانګړی نوم لري، هر کور د کالم د نامه او د رو د شمېرې له مخې پېژندل کېږي، د بېلګې په توګه که په A کالم او 1 رو کې کليک وکړو A1 کور په نښه کېږي او نوموړی کور د A1 له مخې پېژندل کېږي. بله خبره دا چې د يوه په نښه شوي کور پر شا و خوا يو مستطيل رسمېږي او نوموړي ته Cellpointer ويل کېږي، يا هم په بل عبارت Active Cell.

هر کور ليکنې، وخت، نېټې او يا هم فورمول ته ځای ته ورکولای شي، اکسيل کارونه تر ډېره بريده ستاسو په دنده پورې اړه لري چې غواړئ څه ډول ډاټا د نومورې په کالمونو او روګانو کې ځای کړئ.

**اکسيل او چاپېريال يې:**

په دې به بسنه نه کوو، څکه ډېر نور داسې کورونه شته چې د مونيټور پر پرده نه ښکاري، که ښې Arrow کلی کلکه ونيسئ، نور کالمونه لڅېږي د هر کالم پر سر د انګريزي ژبې د الفبا توری ليکلی وي، که چې د کالمونو شمېر د Z تر توري ورسېږي، نوی کالم په AA سره پيلېږي، يعنې AA,AB,AC، دا توري تر هغه مهاله تکرارېږي تر څو د کالمونو شمېر پای ته رسي، هر Sheet ١٦٣٨٤ کالمه لري، چې وروستنی کالم XFD دی، همداسې که د Page Down کلی ته ټک ورکړئ، د نوي پاڼې روګانې د پردې پر مخ ښکاره کېږي، چې هر Sheet ١٠٤٨٥٧٦ روګانې لري، که کالمونه او روګانې يو په بل کې ضرب کړو ټول ١٧١٧٩٨٦٩١٨٤ کورونه کېږي، نومورې ټول هغه کورونه دي چې په يوه Worksheet کې موجود دي او د ډاټا ځايولو وړتيا لري، همداسې د اکسيل هر Workbook چې د لومړي ځل لپاره درې شيټه لري کولای شي ګڼ شمېر شيټونه له ځان سره خوندي کړي، بنايي له تاسو سره دا پوښتنه پيدا شي چې څوک به دا ټول کورونه چې په يوه شيټ کې پراته دي په کار اچوي، مګر د ځينو کمپنيو کارونه دومره پراخ وي چې په يوه شيټ کې نه ځايېږي.

**اکسيل اولومړنۍ محاسبه:**

په ياد ولرئ هر کور د نورو کورونو د قيمتونو يعنې شمېرو د محاسبې لپاره د فورمول اجرا کولو وړتيا هم لري، که د قيمتونو له کورونو څخه د يوه کور قيمت بدل شي، نومورې په اتوماتيک ډول هغه فورمولونه چې د يادو شوو کورونو سره تړاو لري بدلوي، خو دا کړه وړه يې بدلولای هم شو.

د پورتنيو ښه والو له مخې چې يو فورمول کولای شي ارزښتونه هر مهال محاسبه کړي د برېښنايي Spreadsheet يوه تر ټولو لويه وړتيا بلل کېږي، بايد وويل شي په اکسيل کې تر ٤٠٠ زيات Functions موجود دي چې د بېلابېلو موخو لپاره کارېږي، روښانې بېلګې يې محاسبه، ساينس، انجنيري او د ټولګيو نتيجې يادولای شو. بل خوا اکسيل دا وړتيا هم

لري چې معلومات منظم و اوډي، يعني که غواړئ د نومونو يوه ډله د الفبا د تورو په شکل منظم و اوډئ، يـوازې يـو امـر په کار واچوئ، نومونې Sort هغه بلل کيږي.

دا برخه به ځينې لومړنی تخنيکونه، معادلې او فورمولونه پـه فصيح ډول تشريح کـړي. لـږ تـر لـږه يـو فورمـول د دريـو تخنيکونو له مخې ليکل کيږي، په لاندينو بېلګو کې همدا درې ډوله تخنيکونه تر بحث لاندې نيسو او هر هغه يو چې ستاسو لپاره آسان وي کار کړئ.

### د Touch-Typing تخنيک:

لکه څنګه چې موږ مخکې يادونه وکړه يو Cell د نورو سيلونو لپاره د فورمولې په ډول کارېږي، په دې بېلګه کې غـواړو د B4 او B5 قيمتونه په B6 کې جمع کړو لاندنې شکل ته ځير شئ:




په B6 سيل کې کليک وکړئ چې Cellpointer هماغه سيل ته لاړ شي، هر فورمول په مساوي (=) سره پيلېږي، په کيبورډ کې مساوي کلې ته ټک ورکړئ، په همدې ډول د فورمول ليکل پيلېږي لاندنې شکل ته وګورئ:




په دې بېلګه کې Touch-Typing تخنيک په کار اچوو، د فورمول ليکلو پر مهال بايد Space کلې ته ټک ور نه کړئ، يعني فورمول داسې وليکئ b4+b5 لاندنې شکل ته وګورئ د اکسيل بنه بايد نوموړې ورته وي، وروسته د Enter کلې کيکاږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د Enter تر وهلو وروسته د په نښه شوو سيلونو قيمتونه جمع کيږي او پايله يې چې ۳۰ ده په B6 کې پاتېږي، د هر فورمول تر ليکلو وروسته بايد Enter کښيکښل شي، يعني د پورتنيو قيمتونو پايله په B6 کې پاتېږي او Cellpointer نوي سيل يعني B7 ته بدلېږي لاندنی شکل ته وګورئ:




اوس هغه ټکي ته راځو چې مخکې پر رغېدلي و، يعني که د يوه فورمول په قيمتونو کې بدلون راشي فورمول په خپله ځان بدلوي، نوموړې د Spreadsheet تر ټولو ستره ځانګړنه بلل کيږي، Cellpointer بېرته B4 ته يوسئ او د ۲۰ پر ځای ۲۰۰ وليکئ، وروسته Enter کيکاږئ، Cellpointer به B5 ته لاړ شي او د B6 سيل قيمت به چې مخکې ۳۰ و په ۲۱۰ بدل شي لاندنی شکل ځير شئ:




## موږک (Mouse) او تخنيک يې:

په دې بېلګه کې غواړو له B4 سيل څخه B5 هغه منفي کړو، د دې کړنې لپاره موږک په کار اچوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوی Book پرانېزئ، په B4 سیل کې ۵۰ ، په B5 سیل کې ۳۰ ولیکئ، د موږک په مرسته B6 سیل په نښه کړئ او د پخوا په څېر په کیبورډ کې مساوي نښې (=) ته ټک ورکړئ لاندني شکل ته ځیر شئ:




د مساوي تر لیکلو وروسته B4 سیل د موږک په مرسته کلیک کړئ، په دې ډول د فورمول د لیکلو په ځای کې B4 په خپله لیکل کېږي لاندني شکل ته ځیر شئ:




تر پورتنی کړنې وروسته بېرته له کیبورډ څخه کار واخلئ او د منفي نښې (-) ته ټک ورکړئ، په دې ډول د B4 پر سیل را ځرخېدونکې ټکې په ټپه درېږي او د نوموړي پر شا و خوا یو مستطیل چې شین رنګ لري رسمېږي، تر دې وروسته اکسیل د بل سیل د په نښه کولو په انتظار پاته وي لاندني شکل ته وګورئ:




وروسته د موږک په مرسته B5 سیل کلیک کړئ، اکسیل به د فورمول لیکلو په ځای کې B5 په خپله ولیکي لاندني شکل ته ځیر شئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library





د Enter کلی کیکاږئ چې اکسیل له پورتني ارزښت څخه کښتنی هغه منفي کړي لاندني شکل ته وګورئ:




که تاسو د موږک له کارولو سره ښه ترا بلد یاست، د فورمول لیکلو لپاره پورتنی تخنیک ډېر آسان دی

### دArrows کلی او تخنیک یې دحساب په څلورګونیوعملیوکې :

**دجمعې اوتفریق عملیې :** په دې بېلګه کې د یوه فورمول له لارې دجمعې او تفریق عملیې دواړه تر سره کوو، د Arrow کلی‌و په مټ یو فورمول لیکل په ۱۹۸۱ م کې د Lotus لپاره کارېده، نوموړی تخنیک د محاسبې لپاره ډېر مشهوره او منلی هغه بلل کېږي، په تېره بیا د هغو کسانو لپاره چې هغوی به له Typing سره چنداني دلچسپي نه لرله، دا هغه محال و چې کمپیوټر لپاره لا موږک نه و تیار شوی.

نوی Book پرانېزئ، په B4 کې ۲ ، په B5 کې ۳ ، په B6 کې بیا هم ۲ ولیکئ او د موږک په مرسته B7 سیل په نښه کړئ، د پخوا په څېر په کیبورډ کې مساوي نښې (=) ته ټک ورکړئ لاندني شکل ته وګورئ:




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


پورتنی Arrow کلی کیکاږئ، د اکسیل له لوري B6 په نښه کېږي او نوموړی په دې فکر شي چې تاسو غواړئ فورمول له همدغه B6 سیل څخه پیلوئ لاندني شکل ته وګورئ:




مګر غواړو B4 په نښه کړو، له همدې امله پورتنی Arrow کلی دوه ځله نوره کیکاږئ چې B4 په نښه شي لاندني شکل ته وګورئ:




راتلونکی ګام یو څه ستونزمن برېښي ځکه غواړو B4 له B5 سره جمع او B6 څخنې منفي کړو، د B4 تر په نښه کولو وروسته په کیبورډ کې د (+) نښې ته ټک ورکړئ، تر نوموړي نښې وروسته اکسیل د بل سیل د په نښه کولو غوښتنه کوي. کله چې د جمع نښه نه وي لیکل شوي د B4 پر شا و خوا طلایي ټکي څرخي، د یادې شوې نښې تر لیکلو وروسته نوموړي ټکي دریږي او د B4 پر شا و خوا یو مستطیل چې شین رنګ لري رسمیږي لاندني شکل ته وګورئ:



(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس B5 د په نښه کولو ارتیا لیدل کېږي، ډېری وګړی کښتنۍ Arrow کلی د نوموړي د په نښه کولو لپاره کښېکاږي، مګر دا کړنه غلطه ده، پر ځای یې باید پورتنۍ Arrow کلی دوه ځله کښېکښل شي ځکه غواړو له B7 سیل څخه B5 هغه په نښه کړو، پورتنۍ Arrow کلی ته دوه ځله کیکاږئ لاندني شکل ته وګورئ:




وریسې په کیبورډ کې د منفي (-) نښې ته ټک ورکړئ او پورتنۍ Arrow کلی یو ځل بیا کیکاږئ، که پورتنیو انځورونو ته وګورو B4 او B5 سره جمع کېږي او B6 ځنې منفي کېږي لاندني شکل ته ځیر شئ:




Enter کلی کیکاږئ چې د فورمول پایله ځرګنده او Cellpointer کښتني لورې ته یعني B8 ته حرکت وکړي، که غواړئ لیکل شوی فورمول بیا وګورئ بېرته 7B په نښه کړئ لاندني شکل ته وګورئ:




پورتني درې سره د فورمول لیکلو تخنیکونه بلل کېږي، دا په تاسو بناغلیو اړه لري چې کوم یو یې کاروئ او کوم یو مناسب بولئ، د دې لوست په پاتې برخه کې د ریاضي پر ځینو ځانګو ږغېږو چې د هرې ځانګې فورمولونه یې د یادو شوو تخنیکونو له مخې لیکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ضرب:**

د ضرب فورمول لپاره د ستوري نښه (*) په کار اچول کېږي، نوموړې ته Asterisk ویل کېږي او په Shift+8 کلي‌و لیکل کېږي، که مو کیبورډ Numeric Keypad ولري یوازې د ستوري نښه کیکاږئ، مګر د ریاضي د اصولو له مخې د فورمول روښانولو لپاره د هغه تر څنګ X لیکل کېږي لاندني شکل ته وګورئ:

| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | There are twelve cookies in a | | | | |
| 2 | package. How many are in | | | | |
| 3 | five packages? | | | | |
| 4 | | | | | |
| 5 | | 12 | | | |
| 6 | X | 5 | | | |
| 7 | | 60 | | | |
| 8 | | | | | |

B7 =B5*B6

**ویش(تقسیم) :**

په کیبورډ کې دوه ډوله سلاشونه (/ \) لرو، چې لومړنی (\) ته Back Slash او دوهم ته Forward Slash ویل کېږي، د تقسیم لپاره Forward Slash په کار اچول کېږي لاندني شکل ته ځیر شئ د تقسیم یوه بېلګه وینئ:

| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | There are 32 brownies in the | | | | |
| 2 | oven. If there are 16 kids, | | | | |
| 3 | how many brownies will each | | | | |
| 4 | kid get? | | | | |
| 5 | | | | | |
| 6 | | 32 | | | |
| 7 | / | 16 | | | |
| 8 | | 2 | | | |
| 9 | | | | | |

B8 =B6/B7

**کسر:**

اکسیل دا ورتیا هم لري چې د ریاضي په لوړو فورمولونو مو پوه کړي، روښانه بېلګه یې همدا کسر یادولای شو، نوموړی د تقسیم څخه عبارت دی، اوس یې یوه بېلګه وړاندې کوو چې په هغه کې یو پر نهه تقسیمېږي، د کسر فورمول اجرا کولو لپاره لومړی کسري عدد ولیکئ، ورپسې کسري خط او بیا مخرج ولیکئ لاندني شکل ته ځیر شئ:

| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | A company makes 54 tons of dog food annually. | | | | |
| 2 | Last year it lost 1/9 of it. How much did they lose? | | | | |
| 3 | | | | | |
| 4 | | 54 | | | |
| 5 | | 1 | | | |
| 6 | | 9 | | | |
| 7 | | 6 | | | |
| 8 | | | | | |

B7 =B5/B6*B4

(c) ketabton.com: The Digital Library


که پورتني شکل ته ځیر شو د نومورې پر فورموله بار د اجرا شوي کسر فورمول بنکاري.

## لیندی "()" په فورمول کې:

په لاندني شکل کې یو فورمول اجرا شوی دی چې پایله یې غلطه ده، که وګورو احمد څلور، فرید دوه او حمید شپږ چاکلیټونه کلپ ته وړي دي، دوی ټول د یوه کلپ غړي دي، له همدې امله چاکلیټ هم باید په مساوي توګه پر تقسیم شي، که د دې کړنې لپاره موږ دغه B8+B9+B10/3 فورمول په کار واچوو پایله یې ۸ راوزي، حال داچې هر یوه ته باید ٤ و رسیږي.



| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| B11 | =B8+B9+B10/3 | | | | |
| 1 | Ahmad brought 4 candy bars to the club house. | | | | |
| 2 | Farid brought 2 candy bars to the club house. | | | | |
| 3 | Wahed brought 6 candy bars to the club house. | | | | |
| 4 | Since they are all members of the club, How many | | | | |
| 5 | candy bars do each of the 3 club members get? | | | | |
| 6 | | | | | |
| 7 | | | | | |
| 8 | Ahmad | 4 | | | |
| 9 | Farid | 2 | | | |
| 10 | Wahed | 6 | | | |
| 11 | | 8 | | | |
| 12 | | | | | |

اوس راځو د لیندیو کارولو ته چې نومورې په فورمول کې څومره اړینې برېښي، باید وویل شي اکسیل د لاندنیو ترتیبونو له مخې محاسبه تر سره کوي:

١. Unary Minus.

٢. Exponents.

٣. Division and Multiplication, left-to-right.

٤. Addition and Subtraction, left-to-right.

پورتنی ستونزه ځکه منځ ته راغلې چې اکسیل پر لومړي ګام د B10 قیمت پر ۳ تقسیم کړی او د ۲ منځنی پایله یې تر لاسه کړي، تر دې وروسته یې B8 له B9 سره جمع کړی چې ٦ یې تر لاسه کړي، په وروستي ګام کې یې ٦ له ۲ سره جمع کړي او پایله یې ۸ ښودلې ده. د دې ستونزې د هوارې په موخه که د ریاضي ټولنیزه تکلاره له نظره وغورځوو بنایي حل لار یې پیدا کړو، یعنې د فورمول لیکلو پر محال له لیندیو څخه کار واخلئ، که د پورتني فورمول پر ځای دغه (B8+B9+B10)/3 یو په کار واچوو پایله به یې سمه په لاس راشي لاندني شکل ته ځیر شئ:

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




B11 | =(B8+B9+B10)/3

| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Ahmad brought 4 candy bars to the club house. | | | | |
| 2 | Farid brought 2 candy bars to the club house. | | | | |
| 3 | Wahed brought 6 candy bars to the club house. | | | | |
| 4 | Since they are all members of the club, How many | | | | |
| 5 | candy bars do each of the 3 club members get? | | | | |
| 6 | | | | | |
| 7 | | | | | |
| 8 | Ahmad | 4 | | | |
| 9 | Farid | 2 | | | |
| 10 | Wahed | 6 | | | |
| 11 | | 4 | | | |
| 12 | | | | | |

## مربع او مربع جذر:

اکسیل دا ورتیا هم لري چې (طاقت) او (جذر) فورمولونه په کار واچوي، په هر صورت د یوه نمبر درېیم یا څلورم جذر لیکل یو څه حیرانوونکی برېښي، دا لاندنی بېلګه ستاسو د Pythagorean theorem د پوهې مهارت په ګوته کوي، تاسو باید د لاندني شکل مثلث دواړې راسته پښې مربع کړئ، وروسته دواړې څلور ګوټې جمع او بیا یې مربع جذر کړئ!



C6 | =B6^2

| | A | B | C | D | E | F |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | It is 122 miles from B to A. It is 60 miles | | | | | |
| 2 | from B to C. How far is from A directly | | | | | |
| 3 | to C? | | | | | |
| 4 | | | | | | |
| 5 | | | Squares | | | |
| 6 | | 122 | 14884 | | | |
| 7 | | 60 | 3600 | A | | |
| 8 | Sum of Squares: | | | | | |
| 9 | Square Root: | | | | | |
| 10 | | | | | | |
| 11 | | | | | | |
| 12 | | | | | | |
| 13 | | | | | | |
| 14 | | | | | | |
| 15 | | | | | | |
| 16 | | | | B | | C |
| 17 | | | | | | |

د C6 فورمول چې ۱۲۲ مربع کړي داسې B6^2 ولیکئ، باید ووایم په دې فورمول کې کارول شوي (^) نښه د طاقت هغه بلل کېږي چې یو عدد د بل په طاقت ضربوي، دا نښه د Shift+6 په کلی لیکل کېږي. د C7 لپاره فورمول داسې B7^2 ولیکئ او د C8 لپاره فورمول داسې C6+C7 ولیکئ، اوس راځو د C9 سیل لپاره یو فورمول لیکو چې د C8 سیل مربع جذر په لاس راکړي، د نوموړي لپاره فورمول پر دوه ډوله لیکل کېږي، لومړی فورمول چې اکسیل یې له ځان سره ثبت لري:

١ . مساوي = کلی کېکاږئ وروسته SQRT ولیکئ.
٢ . وروسته پیلېدونکې لیندۍ ( ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳ . د موږک په ذریعه C8 کور په نښه کړئ.

٤ . او بیا وروستی لیندی ) ولیکئ. فورمول باید داسې SQRT(C8) بڼه ولري لاندني شکل ته ځیر شئ :




پورتني فورمول په ډاګه کړه چې په نېغه توګه له A څخه تر C پورې ۱۳٦ میله لار ده، اوس دوهم فورمول لیکو چې عین هغه کار تر سره کوي، ځینې ټکي چې په راتلونکي کې ښایي ور سره مخ شئ دا دي چې د یوه نمبر مربع جذر په لاس راوړل د طاقت پر یوه نیم (1/2) لیکل کیږي، یعنې که د پورتني فورمول پر ځای دغه یو C8^(1/2) ولیکو پایله یې یو ډول ده لاندني شکل ته ځیر شئ:




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


### مکعب او مکعب جذر:

که د يوه مکعب درې سره لوري ۲۵ فوټه اوږدوالی ولري، ټول به څومره فوټه وي، دې پايلې ته د رسېدو په موخه فورمول د ۳ په طاقت ليکل کېږي لاندني شکل ته ځير شئ: يعنې فورمول داسې B6^3 ليکل شوی دی.



| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Ahmad rents a storage space that is | | | | |
| 2 | 25 feet tall, 25 feet wide and 25 feet long. | | | | |
| 3 | How many Cubic feet of cookies can | | | | |
| 4 | he store in the space? | | | | |
| 5 | | | | | |
| 6 | | 25 | | | |
| 7 | | 15625 | | | |
| 8 | | | | | |



اوس غواړو د مکعب جذر يوه بېلګه وړاندې کړو، د بېلګې په توګه غواړئ د ۳۳۷۵ مکعب جذر تر لاسه کړې، فورمول داسې B5^(1/3) وليکئ، بايد وويل شي په اکسيل کې د مکعب جذر لپاره همدغه يو ډول فورمول ليکل کېږي، يعنې د مربع جذر په شانې (SQRT) جوړ فورمول نه لري لاندني شکل ته ځير شئ:



| | A | B | C | D | E |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | A customer needs to store | | | | |
| 2 | 3375 cubic feet of oatmeal. | | | | |
| 3 | How large of a cube does he need? | | | | |
| 4 | | | | | |
| 5 | | 3375 | | | |
| 6 | | 15 | | | |
| 7 | | | | | |
| 8 | | | | | |



ښايي دې فورمولونو ته حيران شئ، مګر دا ډول تر هغه ډېر آسانه دی چې په لاس وليکل شي او وخت مو ضايع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اپریټرڅه شی دی؟

په دې برخه کې د اکسیل پر ځینو بنسټیزو توکو چې عبارت دي له Operators څخه رغېږو، یو Operator د فورمول بنسټیز توکی بلل کېږي او په ځان کې یو Symbol دی چې یوه ځانګړې کړنه تر سره کوي، لاندني جدول ته ځیر شئ:

| Symbol | Operator |
|---|---|
| + | Addition جمع |
| - | Subtraction تفریق |
| / | Division ویش (تقسیم) |
| * | Multiplication ضرب |
| % | Percent سلنه (فیصدي) |
| & | Text Concatenation لړ، سلسله یا په بل عبارت د (او) په معنا |
| ^ | Exponentiation طاقت |
| = | Logical Comparison (Equal to) مساوي، برابر |
| > | Logical Comparison (Greater than) غټه یا لوړه شمېره |
| < | Logical Comparison(Less than) ټیټه یا کوچنۍ شمېره |
| >= | Logical Comparison (Greater than or equal to) لوړه یا مساوي شمېره |
| <= | Logical Comparison (Less than or equal to) ټیټه یا مساوي شمېره |
| <> | Logical Comparison (Not equal to) ضد، نابرابره شمېره |

په حقیقت کې Percent اپریټر نه بلل کېږي، مګر نومورې په اکسیل کې د یو فنکشن په ډول کار تر سره کوي، که د یو قیمت په وروستۍ برخه کې ولیکل شي نومورې قیمت پر سلو وېشي. او یاد شوی سیل هم د Percent له مخې فارمټوي.
همدا ډول اکسیل د اپریټرونو له یوه بل ټولګي څخه هم برخمن دی، نومورې ته Reference Operators ویل کېږي چې د سیلونو مرجع ګاني قیدوي او په کار یې اچوي، لاندني لیست ته وګورئ:

| Symbol | Operator |
|---|---|
| : (Colon) | Range د دوو مرجع ګانو تر منځ ټولو پرتو سیلونو ته یوه مرجع ټاکل |
| , (Comma) | Union د بېلابېلو سیلونو یا رینجونو مرجع ګاني په یوه مرجع کې قیدول |
| (Single Space) | Intersection د دوو مرجع ګانو و سیلونو ته یوه مرجع زېږول |

## اپریټرونه او د کارولو تخنیک یې:

په لاندنیو فورمولونو کې د اپریټرونو د تخنیک په اړه رغېږولاندنۍ فورمول دوې لیکنې چې هره یوه په Quotes مارکونو کې نیول شوې یو ځای کوي او د دواړو څخه نوې لیکنه چې (ahmad-23) ده زېږوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


="AHMAD-“&”23”

لاندنی فورمول د A1 او A2 سیلونو لیکنې یو ځای کوي:

=A1&A2

په عادي توګه Concatenation اپرېټر د دوو لیکنو د یو ځای کولو په موخه کارېږي، مګر نومورې د دوو قیمتونو لپاره هم کارېدای شي، د بېلګې په توګه د پورتني فورمول له مخې که په A1 کې 123 او په A2 کې 456 لیکلي وي پورتنی فورمول به د دواړو قیمتونو په یو ځای کولو سره داسې 123456 ولیکي، د یادونې وړ ده په دې ډول چې کومه لیکنه په لاس راځي نوموړې String Text بلل کېږي، که یاد شوی String د ریاضي په یو فورمول کې په کار واچول شي اکسیل به له نوموړي سره د یوه قیمت له مخې چلند وکړي یعنې په نمبر به یې وپېژني، مګر ډېری د اکسیل نور فنکشنونه به نومورې رد کړي ځکه دی همداسې ډیزاین شوی دی.

لاندنی فورمول به ٦ د ٣ په طاقت ضرب کړي او پایله به ٢١٦ وښیي:

=6^3

د اکسیل یو بل ښه والی دا دی چې د ورته فورمولونو لپاره د یوه سیل مرجع هم په کار اچولای شئ نوموړي کړنې ته یې Cell Reference ویل کېږي، په A1 سیل کې 6 او په یوه بل سیل کې لاندنی فورمول ولیکئ: د لاندني فورمول له مخې به د A1 قیمت چې 6 په کې لیکلي دي د ٣ په طاقت ضرب شي.

=A1^3

لاندنی فورمول به د ٢١٦ مکعب جذر په لاس در کړي چې پایله یې ٦ ده.

=216^ (1/3)

د لاندني فورمول له مخې که د A1 قیمت د A2 تر هغه ټیټ وي، True او که نه وي False لیکل کېږي:

=A1<A2

د Logical Comparison Operators د یوې لیکنې لپاره هم کارېدای شي، یعنې که په A1 کې Alpha او په A2 کې Gamma ولیکئ پایله به True تر لاسه کړئ، ځکه Alpha د انګریزي الفبا د جوړښت له مخې تر Gamma وړاندې راځي.لاندنی فورمول به هغه مهال True ولیکي که د A1 قیمت د A2 تر هغه ټیټ یا ور سره برابر وي او که لوړ وي False لیکل کېږي:

=A1<=A2

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاندني فورمول به هغه محال True ولیکي که د A1 قیمت د A2 له هغه سره برابر نه وي او که برابر وي False لیکل کېږي:

=A1<>A2

بل خوا اکسیل په ځان کې د AND او OR لپاره ځانګړي اپریټرونه نه لري، د نومورو لپاره د هغه له فنکشنونو څخه کار اخیستل کېږي، د بیلګې په توګه لاندنی فورمول به هغه محال True ولیکي که په A1 سیل کې 100 یا هم 1000 ولیکل شي:

=OR(A1=100,A1=1000)

دا لاندني وروستی فورمول به هغه محال True ولیکي که A1 او A2 سیلونه دواړه تر ۱۰۰ ټیټ قیمتونه ولري:

=AND(A1<100,A2<100)

## لېندۍ(قوس) په فورمول کې:

په فورمول کې لیندۍ کارول تر ډېره بریده د محاسبې کنټرول په لاس کې اخلي،لاندنی فورمول د دریو نومول شوو سیلونو لپاره لیکل شوی دی:

=Income-Expenses*TaxRate

د پورتني فورمول له مخې غواړو د Income له قیمت څخه د Expenses قیمت منفي کړو او پایله یې د TaxRate له قیمت سره ضرب کړو، په همدې موخه که پورتنی فورمول په کار واچوو پایله یې غلطه په لاس راځي، ځکه اکسیل پر لومړي ګام د Expenses قیمت د TaxRate له قیمت سره ضربوي او پر دوهم ګام کومه پایله چې یې په لاس راوړې د Income له قیمت څخه منفي کوي. که د پورتني فورمول پر ځای لاندنی هغه ولیکو پایله یې سمه په لاس راځي:

=(Income-Expenses)*TaxRate

که ځان د لیندیو (Operator Precedence) له کارولو سره اشنا کړئ ښایي ډیرې پرتې ستونزې له منځه یوسئ، د یادوني وړ ده اکسیل د لاندني جدول له مخې محاسبه تر سره کوي، یعنې ضرب ته پر تقسیم او جمع ته پر تفریق لومړیتوب ورکوي:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


| Operator | Symbol |
|---|---|
| ربطي اپریټرونه | Colon (:), Comma(,), Space |
| رد | — |
| سلنه (فیصدي) | % |
| توان یاطاقت | ^ |
| ضرب او ویش (تقسیم) | * and / |
| جمع او تفریق | + and - |
| لړ، سلسله یا په بل عبارت د (او) په معنا | & |
| پرتله، مقایسه | =, <, >, <=, >=, and <> |

لاندنیو شکلونو ته ځیر شئ چې لومړی یې غلطه او دوهم یې سمه پایله ښیي:



D11 =Income-Expenses*TaxRate

| | A | B | C | D | E | F |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | | | | | | |
| 2 | | | | | | |
| 3 | | Income | Expenses | TaxRate | | |
| 4 | | 1000 | 980 | 0.25 | | |
| 5 | | 1200 | 1090 | 0.75 | | |
| 6 | | 1330 | 1080 | 0.33 | | |
| 7 | | 1400 | 1090 | 0.66 | | |
| 8 | | 1500 | 1290 | 0.45 | | |
| 9 | | 6430 | 5530 | 2.44 | | |
| 10 | | | | | | |
| 11 | | | | -7063.2 | | |
| 12 | | | | | | |



D11 =(Income-Expenses)*TaxRate

| | A | B | C | D | E | F |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | | | | | | |
| 2 | | | | | | |
| 3 | | Income | Expenses | TaxRate | | |
| 4 | | 1000 | 980 | 0.25 | | |
| 5 | | 1200 | 1090 | 0.75 | | |
| 6 | | 1330 | 1080 | 0.33 | | |
| 7 | | 1400 | 1090 | 0.66 | | |
| 8 | | 1500 | 1290 | 0.45 | | |
| 9 | | 6430 | 5530 | 2.44 | | |
| 10 | | | | | | |
| 11 | | | | 2196 | | |
| 12 | | | | | | |

### په لېندیو(قوسونو)کې لېندۍ(قوس) (Nested Parentheses):

نومورې عبارت دي له هغو لېندیو څخه چې د نورو لېندیو په غېږ کې لیکل شوي وي، کله چې یو فورمول په لېندیو کې نورې لېندۍ ولري اکسیل تر هر څه مخکې په دننه لېندیو کې نیول شوي قیمتونه محاسبه کوي، لاندني فورمول ته ځیر شئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library


=((B2*C2)+(B3*C3)+(B4*C4))*B6

پورتنی فورمول د خپلو لېنديو له مخې پر ځلورو برخو چې درې برخې په کې Nested بلل کېږي وېشلی دی ، اکسيل تر هر څه مخکې هره Nested برخه په جلا جلا توګه محاسبه کوي او بیا درې سره برخې جمع کوي چې وروسته يې د B6 د قيمت له مخې ضربوي لاندني شکل ته ځير شئ:




په فورمولونو کې ازادې او خپلواکې لېندی کارول تر ډېره بريده ښه خبره ده، يو پلو نوموړې لېندی د محاسبې ترتيب او نظم تاکي بل خوا د فورمول لوستل آسانه کوي، د بېلګې په توګه لاندني فورمول ته ځير شئ:

=A1*A2+1

پورتنی فورمول د A1 قيمت له A2 سره ضربوي او 1 پر جمع کوي، د اکسيل د محاسبې د ترتيب له مخې په پورتني فورمول کې د لېنديو کارولو اړتيا نه ليدل کېږي ځکه نوموړی د ياد شوي ترتيب له مخې ضرب ته پر جمع لومړيتوب ورکوي، که د پورتني فورمول پر ځای لاندنی هغه وليکو ډېره ښه خبره ده، د دواړو فورمولونو پايلې يو ډول دي:

=(A1*A2)+1

هره پيلېدونکې لېندی بايد وروستی لېندی ولري، که د لېنديو په غېر کې ګڼ شمېر نوري (Nested) لېندی ولرئ، هره لېندی د خپل رنګ له مخې پېژندل کېږي، يعنې اکسيل په دې اړه ستاسو پوره مرسته کوي او د لېنديو هره جوړه تر ترلو وروسته په يوه رنګ در پېژني پر دې برسېره نوموړې د ترلو پر مهال Bold کوي هم.

ځينې وختونه که په يو فورمول کې غلطې لېندی ليکل شوي وي له يو پيغام سره مخېرئ چې لېندی مو اصلاح کړئ لاندني فورمول ته ځير شئ:

=((A1*A2)+(B1*B2)

ما په پورتني فورمول کې وروستنی لېندی قصدا پرې ايښې ده، تر څو له يو پيغام سره مخ شم لاندني شکل ته ځير شئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library





د Yes تنۍ په کلیکولو سره لیکلی فورمول اصلاح کېږي، خو یوه خبره یاد ولرئ هغه دا چې اکسیل هر وخت یو غلط لیکل شوی فورمول نه شي اصلاح کولای، که څه هم د اصلاح کولو په موخه پورتني شکل ته ورته یو پیغام در کړي خو اصلاح یې له یوه اجراکوونکي فورمول سره ډېر توپیر لري، له همدې امله له ډېر احتیاط څخه کار واخلئ!.

د یادونې وړ ده اعشاریوي فورمولونه د ډېر احتیاط له مخې ولیکئ، د بېلګې په توګه که د 140 قیمت د 7.5 فیصدی له مخې محاسبه کول غواړئ فورمول په لاندې بڼه ولیکئ او وروسته لاندني شکل ته ځیر شئ:

=A1*0.075




د یوه قیمت د فیصدی ټاکنې تر ټولو ښه لار دا ده چې د نوموړي قیمت لپاره د اعشاریوي فورمول پر ځای د هغه تر څنګ په پراته سیل کې د هغه فیصدي ولیکئ او د نوموړي سیل مرجع په فورمول کې په کار واچوئ، یاد شوی ډول پر Worksheet د بدلونونو پلي کول تر ډېره بریده آسانوي لاندني شکل ته ځیر شئ:



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د اکسیل مهم فنکشنونه (Functions) اوفارمولونه(formulas) اودهغوی عملي تکلاره:

په تیرڅپرکي کي مودحساب څلورګوني عملیې (جمع،تفریق،ضرب ،ویش) اوهمدارنګه دطاقت اوجذرعملیې زده کړې خو؛په دي برخه کې ځینې مهم فنکشنونه (Functions)([1]) او فورمولونه(formulas)([2]) په لنډه توګه بیانوم کوم چې داکسیل پروګرام دزده کړي لپاره ډیرارین دي اودمحاسباتي چارو دسرته رسولولپاره ورڅخه ډیره ګټه پورته کیږي :

### 1. د SUM دیوه کالم دعددي قیمتونو جمع کولو(function) :

په لاندنی بېلګه کې غواړو د یوه کالم کښ شمېر قیمتونه جمع کړو، موږ تر اوسه پورې د یوه سیل له بل سره د جمع کولو یوازنی طریقه (+) ویلې ده، یعنې که د یوه سیل او بل تر منځ د جمع نښه (+) کښېښودل شي جمع کوي یې، اوس خبره د ډېرو سیلونو منځ ته راغله ایا د ډېرو سیلونو د جمع کولو لپاره باید داسې B5+B6+B7+B8+B9+B10+B11 ولیکو؟ لاندني شکل ته ځیر شئ:




نه ! تر پورتنی لار ډېره تېزه او آسانه لار شته، اکسیل له ځان سره د SUM په نامه یو Function لري چې د ډېرو سیلونو د جمع کولو لپاره کارېږي او په ډېره آسانه توګه د سیلونو کتارونه جمع کولای شي، ځکه د سیلونو کتارونه جمع کول په محاسبه کې تر ټولو ډېر کارېدونکي توکي بلل کېږي، SUM عبارت دی له Summing څخه چې مایکروسافټ یې لنډیز اخیستی دی. پورتنی فورمول پاک کړئ، ورپسې B12 کور انتخاب کړئ، د اکسیل پر Ribbon د Sigma نښه یعنې AutoSum کلیک کړئ، اکسیل په اتوماتیک ډول د هغو سیلونو لپاره چې د B12 پر سر پراته دي یو فورمول لیکي او د یادوو شوو سیلونو پر شا و خوا یو مستطیل چې شین رنګ لري رسموي او تر څنګ یې یو ډول طلایي تکې د یادوو

---

([1]) - **فنکشنونه(Functions) :** له هغومشخصو محاسبوڅخه عبارت دي چې دکمپیوترپه ذریعه تهیه کیږي اوبیاوروسته دپروګرام کوونکي په واسطه ترتیبیږي لکه : Sum,If,Count .

([2]) - **فارمولونه(formulas) :** له هغومحاسبوڅخه عبارت دي چې زمونږپه واسطه ترتیبیږي ،په دي برخه کې دحساب پرڅلورګونوعملیوبرسیره نورې محاسبې هم ترسره کیدای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوو سیلونو پر شا و خوا را خرخوي، معنا دا چې یاد شوي سیلونه د لاندني فورمول په مرسته جمع کېږي. باید ووایم د څو سیلونو کتار ته Range ویل کېږي، که غواړئ د یوه فورمول له لارې دوه کتارونه جمع کړئ، د لومړي کتار تر تاکلو وروسته د کامې (,) کلی ته ټک ورکړئ، او بیا دوهم کتار انتخاب کړئ، د AutoSum تڼۍ تر کلیکولو وروسته د سیلونو کتار په اتوماتیک ډول انتخابیږي، د جمع کولو لپاره یې یوازې Enter کلی کښېکښل غواړي لاندنیو شکلونو ته ځیر شئ:







**خلاصه :** دافورمول دعددونو دیوځای کولو(جمع کولو) لپاره استعمالیږي . لکه په لاندني جدول کې :

=sum(All the salary select) Enter.

| Number | Name | Position | Salary |
|---|---|---|---|
| 1 | Haqmal | Doctor | 1000 |
| 2 | Sardar | Worker | 2000 |
| 3 | Salim | Doctor | 3000 |
| 4 | Khayber | Worker | 4000 |
| **SUM** | | | **10000** |

(c) ketabton.com: The Digital Library


### 2. AVERAGE داوسط یاایوریج (function):

په دې بېلګه کې غواړو د يوه کالم د سيلونو اوسطه شمېره وښيو B12 کور کليک کړئ، وروسي د AutoSum له ځانګړې لیست څخه Average په نښه کړئ، اکسيل د ياد وو شوو سيلونو لپاره د اوسط فورمول ليکي لاندني شکل ته ځير شئ:




تر فورمول ليکلو وروسته يوازې د Enter کلی کیکاږئ، چې د یادوو شوو سيلونو منځنۍ شمېره د پردې پر مخ پاتې شي لاندني شکل ته ځير شئ:




**خلاصه :** دافورمول دعددونواوسط دمعلوملو لپاره استعماليږي . لکه په لاندې جدول کې چې دذکرشویو عددونو اوسط 2500 دی .

| Number | Name | Position | Salary |
|---|---|---|---|
| 1 | Haqmal | Doctor | 1000 |
| 2 | Sardar | Worker | 2000 |
| 3 | Salim | Doctor | 3000 |
| 4 | Khayber | Worker | 4000 |
| **AVERAGE** | | | **2500** |

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


### 3. د COUNT کونټ (function) :

دافورمول یوازې دشمیرنې لپاره استعمالیږي . لکه په لاندې جدول کې هغه کسان چې تنخواوې لري شمیریې څلور۴دی.

=count(All the salary select) Enter.

| Number | Name | Position | Salary |
|---|---|---|---|
| 1 | Haqmal | Doctor | 20000 |
| 2 | Sardar | Worker | 5000 |
| 3 | Salim | Doctor | 20000 |
| 4 | Khayber | Worker | 5000 |
| **COUNT** | | | **4** |

### 4. د COUNTBLANK کونټ بلانک(function) :

دافورمول دنه ذکرشویوعددونو دشمیرلپاره استعمالیږي لکه په لاندې جدول کې دافورمول دهغوکسانولپاره کارول کیږي چې تنخواییې نه وي اخیستې .

=count blank(All the salary select) Enter.

| Name | Position | Salary |
|---|---|---|
| Haqmal | Doctor | 1000 |
| Sardar | Worker | |
| Salim | Doctor | 3000 |
| Khayber | Worker | |
| | | |
| **hasn't taken salary** | | 2 |



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


### 5. د COUNTA [3] کوټنټا (function):

دافورمول دتوريو،نومونوياکلمودشميرني لپاره استعماليږي. لکه په لاندي جدول کي دهغوکسانوشميرچي تنخواوي اخلي خلور۴دی.

=counta(All the name select).

| Name | Position | Salary |
|---|---|---|
| Haqmal | Doctor | 1000 |
| Sardar | Worker | 2000 |
| Salim | Doctor | 3000 |
| Khayber | Worker | 4000 |
| **COUNTA** | | 4 |

www.ketabton.com

[3] - د **Counta او Count توپیر:** کونټ فنکشن یوازي عددونه شميري مګرکونټا فنکشن په عددونوبرسيره (کلمه،سمبول اوداسي نور...) شميرلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


6. د MAX مکس یااعظمي(function) :

دافورمول دعددونو ترمنځ تر ټولو لوړ عدد راښيي . لکه په لاندې جدول کې دافورمول دټولوکسانوله ډلې څخه چې لوړه تنخوا لري معلوموي.

=max(all the salary select) Enter.

| Name | Position | Salary |
|---|---|---|
| Haqmal | Doctor | 1000 |
| Sardar | Worker | 2000 |
| Salim | Doctor | 3000 |
| Khayber | Worker | 4000 |
| **MAX** | | **4000** |

7. دMIN مین یااصغري (function):

دافورمول دعددونو ترمنځ ټیټ عدد راښيي لکه په لاندې جدول کې دټولوکسانوله ډلې څخه دهغه چاتنخوامعلوموي چې ترټولوټیټه تنخوالري.

=min(all the salary select) Enter.

| Name | Position | Salary |
|---|---|---|
| Haqmal | Doctor | 1000 |
| Sardar | Worker | 2000 |
| Salim | Doctor | 3000 |
| Khayber | Worker | 4000 |
| **MIN** | | **1000** |

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دIFs فنکشنونه :**

دافنکشن په جدول کې دیوه ځانګړې حالت سره دعملیودسرته رسولو لپاره په کارورل کیږي . دIFs Functions برخې په لاندې ډول دي :

- ✓ Single if
- ✓ Multiple if
- ✓ Count if
- ✓ Sum if
- ✓ Average if
- ✓ If and
- ✓ If or
- ✓ If note

**8. Single if :**

په محاسبه کې دیوه ځانګړې حالت دورکولو لپاره استعمالیږي.

**مثال :**

- دتنخوا وو یوجدول په نظرکې نیسوهغه کسان چې دA په Grade کې دي دهغه په تنخواوو باندې د 10% سلنه پیسې ورزیاتې شي اوهغه کسان چې دA په Grade کې نه دي دهغه دیوازې خپلې تنخواوې وښودل شي.

SUM =IF(B2="A",C2*10/100+C2,C2)

| | A | B | C | D | E | F |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*10/100+C2,C2) | | |
| 3 | Walid | B | 4000 | 4000 | | |
| 4 | Karim | C | 5000 | 5000 | | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 | | |
| 6 | | | | | | |

- که چیرې وغواړو دهغوکسانولپاره چې دA په Gradeکې نه دي (You are note A grade) ولیکل شي.

ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



SUM =IF(B2="A",C2*10/100+C2,"You are not A Grade")

| | A | B | C | D | E | F | G |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | | | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*10/100+C2,"You are not A Grade") | | | |
| 3 | Walid | B | 4000 | You are not A Grade | | | |
| 4 | Karim | C | 5000 | You are not A Grade | | | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 | | | |
| 6 | | | | | | | |

- که چیرې وغواړوچې دهغوکسانودبونټل ځجري یاسیلونه دتش وښودل شي چې دA په Gradeکې نه دي.


SUM =IF(B2="A",C2*10/100+C2," ")

| | A | B | C | D | E | F |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*10/100+C2," ") | | |
| 3 | Walid | B | 4000 | | | |
| 4 | Karim | C | 5000 | | | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 | | |
| 6 | | | | | | |

- که چیرې دنومورې فنکشن له وروستۍ برخې څخه تیرشو،دهغوکسانودTotal په ځجرو یاسیلونوکې FALSE لیکل کیږي چې دA په Gradeکې نه دي.


SUM =IF(B2="A",C2*10/100+C2)

| | A | B | C | D | E | F |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*10/100+C2) | | |
| 3 | Walid | B | 4000 | FALSE | | |
| 4 | Karim | C | 5000 | FALSE | | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 | | |
| 6 | | | | | | |

- دفیصدي(سلنې) ددرج کولولپاره له لاندې طریقې څخه کټه اخلو:
  - ✓ ددې جدول له بهرڅخه یوه ځجره یاسیل غوره کوو.
  - ✓ بیاورسته دTotals په کالم یاستون کې فنکشن لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




| SUM | =IF(B2="A",C2*D$7+C2,C2) | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | A | B | C | D | E |
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*D$7+C2,C2) | |
| 3 | Walid | B | 4000 | 4000 | |
| 4 | Karim | C | 5000 | 5000 | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 | |
| 6 | | | | | |
| 7 | | | Type Percentage: | 10% | |
| 8 | | | | | |

اوس که چیرې دType percentage حجرې یاسیل ته تغیرورکړودمعاشونوتنخوا زیاتیږي چې Gradeیې A دی.

- که چیرې وغواړو د Grade فیصدي(سلنه) اوهغه کسان چې ifs له ساحې څخه بیرون پاتې کیږي، له جدول څخه دباندې یې حالت ولیکونو؛له لاندې طریقې څخه کاراخلو:



| SUM | =IF(B2=D$8,C2*D$7+C2,D$9) | | | |
|---|---|---|---|---|
| | A | B | C | D |
| 1 | Name | Grade | Salary | Total |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2=D$8,C2*D$7+C2,D$9) |
| 3 | Walid | B | 4000 | Sorry |
| 4 | Karim | C | 5000 | Sorry |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 |
| 6 | | | | |
| 7 | | | Type Percentage Here: | 10% |
| 8 | | | Type Grade Here | A |
| 9 | | | Remaining Records | Sorry |
| 10 | | | | |

داهغه ساحه ده چې موږیې له یکې لیکنه کووترڅوتوټل تغیرومو

اوس که چیرې وغواړو د Type Percentage, Type Grade Here, Remaining Records حجرې یاسیلونه تبدیل کړو نو؛دTotal کالم یاستون په خپله تغیرمومي.

- که چیرې وغواړو دمعاشونوپه تنخواوو 10% سلنه پیسې ورزیاتې کړوچې Gradeیې A دی اودمعاشونوپه تنخواوو باندې 5% سلنه پیسې ورزیاتې کړوچې Gradeیې A نه دي.



| SUM | =IF(B2="a",C2*10/100+C2,C2*5/100+C2) | | | |
|---|---|---|---|---|
| | A | B | C | D |
| 1 | Name | Grade | Salary | Total |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="a",C2*10/100+C2,C2*5/100+C2) |
| 3 | Walid | B | 4000 | 4200 |
| 4 | Karim | C | 5000 | 5250 |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 |
| 6 | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library


### 9. Multiple if :

په عین وخت کې له یوه څخه دزیات if داستعمال لپاره دی ،ددې فنکشن په ذریعه کولای شـوپه عین وخت له یوه څخه تراووه 7 if پورې ګټه پورته کړو.

**مثال:**

دمعاشاتو یاتنخواوو یوجدول په نظرکې نیسو اودهغوی درتبې یاګریډپه نظرکې نیولوسره یې تنخواوې زیاتوو:

دA په Grade کې په تنخوابرسیره %30سلنه، دB په Grade کې په تنخوا برسیره 20% سلنه اودC په Grade کې په تنخوا10% سلنه پیسې ورزیاتوو:

SUM | =IF(B2="A",C2*30/100+C2,IF(B2="B",C2*20/100+C2,IF(B2="C",C2*10/100+C2,C2)))

| | A | B | C | D | E | F | G | H | I | J | K |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | | | | | | | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*30/100+C2,IF(B2="B",C2*20/100+C2,IF(B2="C",C2*10/100+C2,C2))) | | | | | | | |
| 3 | Walid | B | 4000 | 4800 | | | | | | | |
| 4 | Karim | C | 5000 | 5500 | | | | | | | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 7800 | | | | | | | |
| 6 | | | | | | | | | | | |

- که چیرې وغواړو ددرې واړه رتبو فیصدي (سلنه) له جدول څخه دباندې درج کړواودهغوی حاصل دTotal په کالم کې وښیوو.

SUM | =IF(B2="A",C2*E$9+C2,IF(B2="B",C2*E$10+C2,IF(B2="C",C2*E$11+C2,C2)))

| | A | B | C | D | E | F | G | H | I | J |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Name | Grade | Salary | Total | | | | | | |
| 2 | Ahmad | A | 3000 | =IF(B2="A",C2*E$9+C2,IF(B2="B",C2*E$10+C2,IF(B2="C",C2*E$11+C2,C2))) | | | | | | |
| 3 | Walid | B | 4000 | 4800 | | | | | | |
| 4 | Karim | C | 5000 | 6500 | | | | | | |
| 5 | Ghani | A | 6000 | 6600 | | | | | | |
| 6 | | | | | | | | | | |
| 7 | | | | | | | | | | |
| 8 | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | Grade A : | 10% | | | | | |
| 10 | | | | Grade B : | 20% | | | | | |
| 11 | | | | Grade C : | 30% | | | | | |
| 12 | | | | | | | | | | |

داهغه ساحه ده چې په هغه کې دیرسونل فیصدي (سلنه) ټایپ کوو.

